سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۰۷/۰۵

# مست پرون

غوږ شه! یو غږ له میخانې نه راځي

چی د ترخو اوبو د ښبلو وخت دی

ویشي ساقي پرلـه پسی جامونه

د ډکـو زړو د تشـولو وخت دی

هغه سپین مخ چی په پرده کی پټ و

نن یی ښـکاره د ښکلـولو وخت دی

زاړه شراب نـوو پیالو کی خاندی

بـیا د تـوبـو د ماتـولـو وخت دی

د شـعر شپه ده ورتـه شمعی ناځی

د تـورتمـو د ختمیدلـو وخت دی

د کلی مست او خُمـار تـول راغلي

ښکاری دعشق د نڅیدلـو وخت دی

د غـزل اوښکو ډکـی کړی پیـالي

د انګــازو د اوریدلــو وخت دی

ټول کلیوال غواړی شربت د سوما

د مسـت پرون د بیا راتللو وخت دی

تورنتو ـ کاناډا جولای ۲۰۱۸